WWW.PILDAT.ORG

بیک گراونډ پیپر

# د دوه زره شپاړسم روستو بدلیدونکي سیمه ایز صورتحال: د پاکستان افغانستان تعلقات

څوارلسم دسمبر

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرنسی




بېک ګراونډ پېپر

# د دوه زره شپاړسم روستو بدلیدونکي سیمه ایز صورتحال: د پاکستان افغانستان تعلقات

څوارلسم دسمبر

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمینٹ
اینڈ ٹرانسپیرنسی

پلډاټ یوه آزاده،غیر جانبداره او بې ګټې د څیړنې او روزنې خپلواکه اداره ده چې مقصد ئې پاکستان کښې جمهوریت او جمهوري ادارې مضبوطول دي.

پلډاټ د پاکستاني مدني ټولنې د قانون XXI مادې کال اتلس سوه شپیته ترلاندې رجسټر شوې بغیر ګټې اداره ده.

پاکستان انسټي ټیوټ آف لیجسلیټیو ډویلپمنټ اینډ ټرانسپرنسي پلډاټ کاپي رائټ لري

ټول حقونه خوندي ساتي

پاکستان کښې چاپ شوې

دسمبر دوه زره دیارلسم کښې خپور شوې

**ISBN:978-969-558-463-7**

د دې کتاب نه اخستې شوې هره برخه باید چې د پلډاټ د ښکاره حوالې سره اولیکلې یاخپور کړې شي

Pakistan Institute of
Legislative Development
And Transparency

د پاکستان انسټي ټیوټ آف لیجسلیټیو ډویلپمنټ اینډ ټرانسپرنسي پلډاټ
اسلام آباد دفتر: پي او بکس ۲۷۸، ایف ایټ، پوسټل کوډ: ۴۴۲۲۰، اسلام آباد، پاکستان.
لاهور دفتر: پي او بکس ۱۱۰۹۸، ایل سي سي ایچ ایس، پوسټل کوډ: ۵۴۷۹۲، لاهور، پاکستان
ایمیل: ;info@pildat.org ویبپانه : www.pildat.org

## مواد

پیش لفظ
لنډ ټکي او اختصار
د لیکوال پحقله

د پاکستان افغانستان د تعلقاتو تاریخي پس منظر او پېژندګلو 08

د پاکستان افغانستان تعلقات د دوه زره څوارلسم نه روستو 08

تګلاره: د پاکستان افغانستان لخوا د ممکنه شریکو اقدامات منصوبې اړخته ګامونه او سفارښتونه 11

## پېش لفظ

**د دوه زره شپاړسم روستو سيمه کښې بدلېدونکي صورتحال:پاکستان افغانستان په تعلقاتو** دا پس منظر يا بېک ګراونډ پيپر په خاص توګه تيار کړې شوېدې چې دا شان د پاکستان افغانستان د پارليماني غړو ترمنځه اسلام آباد کښې په ديرشم يو دېرشم دسمبر دوه زره څوارلسم کېدونکې دولسمه مذاکره کښې د دوي مرسته وکړي.

دا پيپر چې افراسياب خټک ليکلې څوک چې دعوامي نشنل ګوند خېبر پختونخوا نه سنېټر او د بشري حقونو د پاره د سېنټ د قائمه کمېټۍ مشر دې، دې کښې د پاکستان افغانستان د تعلقاتو او په خاص توګه په تاريخي پس منظر، دې سره سره په موجوده مسائلو،د دې د حل په لارو چارو، دوه زره څوارلسم روستو په صورتحال او د دوانړو ملکونو ترمنځه تجويز شوې ممکنه شريکو اقداماتو په منصوبه او سفارښتونو ليک شوېدې.

**اعتراف**
پلډاټ غواړي چې د دې پيپر خپرولو لړ کښې په مالي مرستو کولو د برطانوي هائي کمشن اسلام آباد مننه وکړي.

لاتعلقي
دې پيپر کښې خپور شوې فکر، رائے، تنيجې او سفارښتونه د ليکوال خپل دي او دا د پلډاټ او برطانوي هائي کمشن د سوچ هنداره نه ده.

اسلام آباد
دسمبر دوه زره څوارلسم

## اختصار او لنډ تړکي

| | |
|---|---|
| BSA | دوه اړخيزه سېکورټي لوظنامه |
| CENTO | د مرکزي لوظنامې تنظيم (سېنټو) |
| HPC | دصلحې اعلي شوره |
| ISAF | نړيوال صلح ساتونکي ځواکونه (اېساف) |
| NATO | د شمالي اوقيانوس لوظنامې تنظيم (ناټو) |
| SEATO | د سوئېلي ختيز آسيا لوظنامې تنظيم (سېټو) |
| SOFA | د ځواکونو د تعين لوظنامه |

## د ليکوال پحقله



**محترم سنېټر افراسياب خټک**
د بشري حقونو دپاره د سېنټ فنکشنل کمېټۍ مشر
عوامي نشنل ګوند؛ خېبر پختونخوا

سنېټر افراسياب خټک د خېبر پختونخوا کوهاټ سېمې سره تعلق لري. سنېټر خټک د زده کړې د وخت نه سياست کښې برخه اخلي، ليکوال او د بشري حقونو دپاره کارکونکې دې. نوموړې د درې کالو دپاره دپاکستان د بشري حقونو د کمشن (HRCP) صدر پاتې شوېدې. دې يو آئيني کارپوه او د سپريم کورټ وکيل هم دې.سنېټر خټک دا اوس مهال د د بشري حقونو دپاره سنېټ فنکشنل کمېټۍ چېرمېن او د سائنس ټېکنالوجۍ، پېټروليم او قدرتي وسيلو، خارجه چارو، کشمير ، ګلګت بلتستان او پولو او سرحداتو دپاره د سنېټ قائمه کمېټيو غړې دې.

## تاریخي پس منظر او پېژندګلو

د پاکستان افغانستان تعلقات د شلمې پېړۍ د سوړ جنګ راهسې د سیاسي ناباورۍ او مسلو ښکار دي. د یو شان تاریخ،کلتور، مذهب او دود دستور باوجود دوانړو ملکونو د بده مرغه په یو بل تورونه او دهغې جوابي تورونه لګولي چې ورسره اوبه نورې هم خړې شویدي.

دا تعلقات د سیاسي او نظریاتي فرق پر اساس د شلمې پېړۍ په نیمائي کښې نور هم ګډ وډ شو. دغه وخت کښې پاکستان د کمیونزم مخنیوي لړ کښې د امریکامشرۍ کښې د غربي پوځ د لوظنامو سیټو او سینټو سره برخه وه.هر څو که افغانستان په تکنیکي توګه د هیچا سره نه وو خو بیا هم د هندوستان او هغه وخت شوروي اتحاد ته نزدې وو. دهغه وخت لویو طاقتونو کوشش کولو چې خپل پلویان د مخالفو په ضد اوجنګوي.دې صورتحال سره د ګاونډي ملکونو ترمنځه ښه تعلقات جوړېدو کښې خنډان راولاړ شو.

په نولس سوه پنځوس او شپېته کښې د پاکستان افغانستان د خرابو تعلقاتو باوجود دې بعضې ښه اړخونه هم شته. د مثال په توګه دوانړه ملکونه افغان ترانزیټي لوظنامې ته ورسېدل، کوم چې د مضبوطو تعلقاتو دپاره یو ښه بنیاد دې.د دې لوظنامې ترلاندې افغانستان کولې شي د پاکستاني سمندري لارې یا بندر په ذریعه ټولې نړۍ سره تجارت وکړي. په کال نولس سوه پنځه شپېته او نولس سوه یو اوویا کښې د پاکستان هند ترمنځه شوې دوانړو جنګونو کښې افغانستان د پاکستان دپاره هېڅ مسلې نه دي پیدا کړې او دا باور ئې هم ورکړې وو چې په پاک افغان پوله به د پاکستان خلاف څه قسمه ناوړه عمل نه کېږي. نو د افغانستان په

**د پاکستان افغانستان د تعلقاتو** مرسته پاکستان خپلې وسیلې او پاملرنه په ختیزه پوله ورکړې وه.

حالات هغه وخت یکسر بدل شو کله چې دهغه وخت شوروي اتحاد په کال نولس سوه اتیا کښې په افغانستان یرغل وکړو. ددغې جنګ دلاسه په لکهونو افغان کډوال پاکستان ته راغلل. دې دوران پاکستان د شوروي اتحاد په ضد د افغانستان د جهګړې مرسته وکړه او داشان د دوانړو ملکونو د اولسونو ترمنځه یوه نوې رورولي جوړه شوه.د درستې نړۍ په تاریخ کښې به د دوه ملکونو د اولسونو ترمنځه دومره په لویه پېمانه د تلې راغلې بل مثال نه وي.

د تېرو څو لسیزو تجربو دا حقیقت په ډاګه کړې او دې کښې څه شک هم نشته چې ترهغې یو ملک کښې امن نشي راتلې تر څو چې بل کښې بدامني وي. مونږ ولیدل چې د افغانستان نا امني پاکستان ته هم اوړېدلې ده او هلته ئې ډېرې بدې اغیزې مخې ته راغلې. دوانړو ملکونو کښې په زرګاو خلقو د ترهه ګرۍ دلاسه خپل ژوند بائللې. یو ځل بیا د تجربې نه دا خبره ثابته شوې چې ترڅو دوانړو ملکونو یو بل سره مرستې نه وي کړې ترهغې د ترهه ګرۍ ناسور ته ماتې ورکول ګران دي.

د پاکستان اولس افغانانو سره خواخوږي لري او هلته سماجي، سیاسي او سېکورټي بدلون غواړي.دوي دافغانستان جمهوري عمل کښې روانو بدلونونو ستائنه کوي. او دا د تاریخ مهمه برخه ده چې د افغانستان مختلفو حکومتونو کښې د سماجي پرمختګ دپاره کار شوېدې. په کال نولس سوه شلم کښې د افغانستان د باچا امان الله خان لخوا پورته کړې شوې اقداماتو نه تر بون پراسس پورې یو شمېر کوششونو رنګ راوړې دې خو څه لږ ډېر داسې دي چې هغې کښې اولس زړه

خوښي نه ده ښکاره کړې نو ځکه ناکامه شوې.

**د دوه زره ځوارلسم روستو د پاکستان افغانستان تعلقات**

د افغانستان اولس لخوا په تېرو صدارتي ټاکنو کښې لوئې شمېر کښې ګډون د دې خبرې ثبوت دې چې د افغانانو زیاته شمېره ملک کښې د جمهوري عمل مرسته کوي کومه چې د مستحکم افغانستان دپاره د دوي دعزم هنداره ده.

د ایساف ځواکونو نه امنیتي چارې خپلو لاسو کښې اخستل او تر دې دمه چې افغان سېکورټي فورسز د خپل هېواد څه رنګ حفاظت کړې هغه هم د اطمېنان وړ دې.

په اعله کچ د دفاع وزارت او پوځي لوړ پوړو ترمنځه ملاقاتونو او رابطو نه دا خبره ثابتېږي چې لا هم تعلقاتو نور ښه کولو ګنجائش موجود دې. د دوانړو ملکونو دفاعي اسټېلشمنټ له پکار ده چې د ترهه ګرئ خاتمې لړ کښې یو بل سره مرستې اوکړي ځکه چې دا د دوانړو شریک دښمن دې.

دا خبره په رېکارډ ده چې پاکستان کښې ټول سیاسي جماتونه په دې متفق دي چې باید افغانستان سره د برابرئ په بنیاد د رورولي اړیکي ولري.لکه څنګه چې مونږ د مئ دوه زره دیارلسم په نتیجه کښې پاکستان کښې جوړ شوي نوې حکومت ولیدو دوي هم افغانستان سره هغه رنګ اړیکي قائمې ساتلې څنګه چې تېر دور کښې وې او په دوانړو کښې هېڅ بدلون نه دې راغلې. د دوه اړخیزه تعلقاتو زیاتولو ډېرې موقعې موجود دي.باید چې د دوانړو حکومتونو ترمنځه تعلقاتو ته په ادارتي کچ نوره وده ورکړې شي او دغه رنګ د اولسونو په کچ رابطې هم نورې زیاتې او مضبوطې کړې شي.

دا خبره هم د ذکر ده چې د دوانړو ملکونو د اولسونو ترمنځه وخت بې وخته ملاقاتونه کېږي، البته د دوانړو ملکونو د مدني ټولنو ناستې ولاړې له هغه لوړې کچې ته نه دي رسېدلي.د دوانړو ملکونو د امن او جمهوریت دپاره د سیاسي غړو ترمنځه د تلې راغلي هم ډېرې موقعې دي او دې ته نوره وده ورکول پکار دي. پکار ده چې د دوانړو ملکونو د پارلیماني غړو، کاروباري خلقو، پوهانو،مدني ټولنو خلقو او ځوانانو د تلې راغلي ډاډګیرنه وشي. ځوانان کولې شي د تعلقاتو ښه کولو لړ کښې مهم کردار ولوبوي نو ځکه ضروري ده چې د دوه اړخیزه سفرونو په اېجنډه کښې دې ته خاص ځائې ورکړې شي.

د کلتور، لوبو او مطبوعاتو په څانګو کښې هم د دوه اړخیزو تعلقاتو د پراختیا لوئې موقعې پټې دي.د دوانړو ملکونو فنکاران، په کلتور او ژبو پوهه خلق کولې شي د فلمونو، ډرامونو، سندرو او نورو موادو کښې یو بل سره تبادله وکړي.دا کار یو فنکار په ځانګړې توګه هم کولې شي او یوه ډله ئې هم کولې شي خو ډېره ښه به دا وي چې دا کار په لویه پیمانه په سم ډول وکړې شي.

د نورو کومو دوه ګاونډي هیوادونو ترمنځه د دومره ښه تعلقاتو د مواقعو تصور کول هم ګران دي. دا ډېره عجیبه خبره ده چې د دوانړو ملکونو کېبل واله د یو بل د ملک ټیلي وژن چېنلي نه چلوي. د دوانړو ملکونو حکومتونه په سرکاري کچ په دغه اړه هېڅ نه وائي خو دا ګرانه نه ده چې دا قسمه کار په سرکاري کچ مداخلت سره ختمېدې شي. بس یواځې هغه خلق چې ډش ټي وي ته لاس رسي لري کولې شي د بل ملک خپروني وګوري. د یو بل ملک کښې نېغ په نېغه رابطو نه لرلو په وجه دوانړه ملکونه د پولې یو خواه بلې خواه خبرونو دپاره د

بهرني میډیا په خاص توګه غربي میډیا ته اړتیا لري.

داهم ډېره عجیبه ده چې افغانستان کښې تېرو صدارتي ټاکنو کښې یوه پاکستاني کېمره نه وه چې د دغه انتخابي عمل کور کړي او هر څه د بهرنیو خبري اژانسو په لار پاکستان ته را رسېدل.
همدا صورتحال د کرکټ په لوبه کښې هم دې ، دوانړو ملکونو کښې د دې لوبې ډېر مینه وال دي او دوانړه ملکونه کولې شي د کرکټ لوبې وکړي. خو په سیاسي کچ د عدم اعتمادئ په وجه له دې موقعې څخه هم ګټه نه ده پورته کړې شوې.

افغان پارلیمان امریکا سره دوه اړخیزه سېکورټي لوظنامه (BSA)لاس لیک کړې (کومه چې اوس په سرکاري توګه د سېکورټي او دفاع په څانګه کښې د مرستو لوظنامه بلل کیږي) او دغه رنګ د ناټو سره د ځواکونو د حېثیت لوظنامه (SOFA).دې سره ایساف ځواکونو ته د راتلونکي مشن ریسلوټ سپورټ چې د ړومبۍ جنورۍ دوه زره پنځلسم کال نه شورو کیږي، لار هواره شوې. دا به ټول دولس زره عسکر وي چې پکښې به نهه زره اته سوه د امریکا وي. د صدارتي ټاکنو په نتیجه کښې افغانستان کښې جوړ شوي د شریک قامي حکومت پاکستان هر کلي کړې او د دې کامیابي غواړي.

نزدې تېرو وختونو کښې د دوانړو ملکونو د سیاسي او پوځي مشروالۍ د ملاقاتونو نه دوه اړخیزه تعلقاتو ښه کېدو کښې اشاره ترلاسه شوې. دې کښې تر ټولو مهم سفر د افغان ولسمشر اشرف غني د پاکستان ړومبۍ دوره وه چې ده په څوارلسم نومبر دوه زره څوارلسم کړې وه. پر دغه مهال د دوانړو ملکونو مشروالۍ لخوا شوې ژمنو سره د سیاسي، اقتصادي او پوځي مرستو نوې لارې خلاصې شوې. د پاکستان پحقله د ښاغلي اشرف غني ښکاره فکر سره پاکستان ډېر خوشحاله شوېدې. کله چې د پاکستان وزیراعظم نواز شریف خپل خطاب کښې د افغانستان سره د تعلقاتو په اړه د نوي باب خبره اوکړه دغه دوران د افغان ولسمشر ډاکټر اشرف غني وینا وه دې غواړي چې دې لړ کښې نوې کتاب پرانستې شي. د دوه اړخیزه تجارت زیاتولو لړ کښې د کوټلي اقداماتو او د توانائۍ څانګه کښې په شریکه هلو ځلو کولو او اقتصادي مرستو ژمنه شوېده.

ترټولو لویه خبره دا ده چې افغان ولسمشر اشرف غني په شمالي افغانستان کښې د پاکستاني کاروباري رورولۍ دپاره د ایکسپورټ انډسټرئېل زون جوړولو وړاندیز کړېدې.افغان ولسمشر پاکستان چارواکو سره د کراچۍ په بندر افغاني تجارانو ته د ترانزټ ټرېډ لړ کښې د وریښمو مسلو خبره هم راپورته کړه. تر څو چې ذکر شوې تجویز ډېر مهم دې پکار ده چې د دې مخ په وړاندې بوتلو او عملي کولو دپاره د دوانړو ملکونو د سرکاري او ذاتي مد څانګو په نمائندګانو اړه یو ورکنګ ګروپ هم جوړ کړې شي.

**د مخکښي تګلاره: د پاکستان افغانستان ممکنه اېکشن پلان د پاره ستراتجيکي ګامونه او سفارښتونه**

د پاکستان افغانستان ترمنځه اقتصادي او تجارتي تعلقاتو پټي مواقعي هله رابرسېره کېدې شي کله چي دوانړو ملکونو کښي امن وي. افغانستان کښي د ترهه ګرۍ تازه چپي په شا دا وجه وه چي د افغان ولسمشر اشرف غني د پاکستان سفر روستو د دوانړو ملکونو مخ په ښه کېدونکي تعلقات خراب کړې شي.

هسي خو د ترهه ګرۍ هره پېښه ناوړې وي خو په خاص توګه دغه پېښه يو شېطاني عمل دې چي د افغانستان پکتيا ولايت کښي د والي بال لوبي په وخت رامنځ ته شوه چي پکښي تر اتياو کسانو ژوند د لاسه وکړو.

همدا رنګ يوه دردناکه پېښه په شپاړسم دسمبر نومبر دوه زره ځوارلسم کال پېښور کښي رامځي ته شوه چي پکښي ترهه ګرو د ښوونځي ماشومان او استاذان ووژل. د پېښور پېښه د ترهه ګرۍ خلاف جنګ کښي د حکومتي ادارو او پاکستاني اولس دپاره يو اهمه نکته ثابته شوه. پاکستاني ولس د ترهه ګرو په ضد په جار رااوته او د ترهه ګرۍ ختمولو دپاره ئې د کوټلي اقداماتو غوښتنه وکړه.

دا ډېره ښه خبره ده چي د پېښور پېښي روستو نه يوائې عام خلق د ترهه ګرۍ په ضد يو موټې شو بلکه د پاکستان افغانستان حکومتونو هم د ترهه ګرۍ ختمولو دپاره يو بل سره مرستي زياتي کړې.دا ګام د ستائني دې چي دوانړو حکومتونو په يو بل د تورونو الزامونو پځائي په چپه خله د ترهه ګرۍ خلاف شريک جنګ کښي يو بل سره مرستي سېوا کړې.

دې سره دا امېد پېدا شوې چي راتلونکي کښي به د دوانړو ملکونو مرستي نورې هم زياتېږي چي ورسره به ترهه ګري خپل منطقي انجام ته ورسولي شي. مونږ په دوانړو حکومتونو ټينګار کوو چي د اعتماد سازۍ دپاره بايد کوټلي ګامونه پورته کړي. د اعتماد زياتولو دپاره به دوانړو له د يو بل ملک کښي د ترهه ګرو د پټنځايونو په حقله معلومات خپلو کښي شريکول وي. دې سره به ددوانړوملکونو تعلقات او اعتماد ښه شي او بداعتمادۍ به ختمي شي.

پاکستان د افغانستان ولس لخوا هلته روان د امن او مفاهمتي عمل بشپړه مرسته کوي. دغه لړ کښي به پاکستان خپل مثبت کردار جاري ساتي چي دا شان افغان ولس د خپل خواهش مرام ته ورسي.

پاکستان د افغانستان مفاهمتي عمل دپاره د صلحي اعلي شوره لخوا پورته کړې شوي ګامونو هم ملاتړ کړې او هيله مند دې چي د افغانستان او ټولي منطقي د امن دپاره به ټولي ډلي به د عقلمندۍ مظاهره وکړي.

بايد چي په سيمه ايز او نړيوال کچ کوټلي سوچ خپل کړې شي ځکه چي د تېرو وختونو بې ګټي پاليسۍ د جنګونو سوب جوړ شوېدې.

مونږ د دوانړو ګاونډي ملکونو لخوا د سمي امن په خاطر پورته کړې شوي ګامونو او دغه لړ کښي د هر قسمه مرستو د ژمني ستائنه کوو. دې سلسله کښي مونږ د خپل نزدې ملګري ګاونډي ملک چين په خاص توګه مننه کوو چي د سيمه ايز امن او مسلو د حل لړ کښي ئې دخپل خواهش ځرګندونه کړېده.هيله ده د منطقي امن او معاشي ترقی لړ کښي د چين ځار سره به سيمه کښي پوخ امن راشي او دا منطقه به په اقتصادي ترقی کښي د نورې نړۍ سره برابر اودرېږي.
د پاکستان افغانستان ترمنځه نه يوائې په لوئې کچ دوه اړخيزه غونډې کېږي بلکه

څوک چې د دوانړو هيوادنو اولسونوته مرګونه او تباهي ور اړوي.

که دوانړه ملکونه د ماضي نه زده کړه وکړي او هغه خبري بيا نه تکراروي نو کولې شي د ترهه ګرئ ضد جهګړه کښې خپل منځي مرستې زياتې کړي. شېطاني قوت ته ماتې ورکولو سره به دوانړه ملکونه په دوه زره شپاړسم کال او دهغې نه وړاندې نظر ولري کوم چې د اقتصادي ترقئ دور دې او هم دا د ټولو آسيائي ملکونو شريک منزل دې. د هر څه باوجود د يوويشتمې پېړئ د اقتصادي او معاشي ترقئ اشارې د آسيائي ملکونو سره لګي.

دوانړه ملکونه په درې اړخيزه او نورو ګنړ اړخيزه فورمونو کښې هم ناسته کوي چې مقصد ئې سيمه کښې امن او استحکام راوستل دي. مونږ ژمن يو چې په ايمانداړئ او مسلسل کوشش سره به خپل منزل ته ورسو.

د افغانستان تل پاتې امن او پاکستان کښې ترهه ګرئ ته ماتې ورکولو دپاره دوه زره پنځلسم کال ډېر مهم دې.دې سره د دوانړو ملکونو راتلونکې او قسمت تړلې دې. داسې حال کښې چې دوانړه ملکونه د امن دپاره کوشش کوي پکار ده چې ورسره ورسره هغه ترهه ګرو ته هم ماتې ورکړې شي



پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی


د پاکستان انسټي ټيوټ آف ليجسليټيو ډويلپمنټ اينډ ټرانسپرنسي پلډاټ
اسلام آباد دفتر: پي او بکس ۲۷۸، ايف ايټ، پوسټل کوډ: ۴۴۲۲۰، اسلام آباد، پاکستان.
لاهور دفتر: پي او بکس ۱۱۰۹۸، ايل سي سي ايچ ايس، پوسټل کوډ: ۵۴۷۹۲، لاهور، پاکستان
ايميل: info@pildat.org; ويبپاڼه : www.pildat.org